د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونې د کاروبار د لېوالتیا  د سروې راپور

سپتمبر، ۲۰۱۷

دریمه ربعه

**د آلمان هېواد نړیواله مرستندویه ادارې په همکارۍ**

## د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونې د کاروبار د لېوالتیا سروې راپور

**سترې لاسته راوړنې**

- د آخرنیو سروې ګانو پر بنسټ په مجموع کې د کاروبار چاپیریال ښه والې موندلې، مګر دا سروې د ۲۰۱۶ کال په مقایسه کوم د پام وړ بدلون نه را په ګوته کوي.
- د سروې شوو کاروبارونو څخه د تر لاسه شویو معلوماتو پر بنسټ د پخوانې سروې په نسبت د دوې د باور کچه لوړه شوې، ولې د راتلونکو شپږو میاشتو لپاره د دوې د توقع کچه کمه شویده.
- د ۲۰۱۴ کال د تېرو دوه ربعو په څیر، یوائې د ننګرهار سیمه د کاروبار د ښه چاپیریال ښودونکې ده، او دغه راز د کندهار او بلخ سیمې هم د ښه والې نخښې نخانې را په ګوته کوي.
- د کرهنې سکټور د کارموندنې په برخه کې تر ټولو زیات امید بخښونکې وو( ۱،۱۳)، ولې د صنعت ونډه په دې برخه کې تر ټولو کمه بریښي (۴،۹ ).
- د ۲۰۱۶ کال د آخري برخې څخه را پدیخوا د صنعت برخه په تدریجي توګه د سکټوري تقسیم بندۍ په آخر کې ځای لري.
- لوی صنعتونه د ښه کیدا په حال کې دي، ولې برعکس د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو وضعیت لا خراب شوې دې.
- د کاروبارونو د معلوماتو پر بنسټ د پیرودونکو په فرمایشاتو او غوښتنو کې کموالی راغلی دې.
- د سوداګرۍ د پرمختیا لپاره امنیت تر ټولو مهم فکتور دې، چې پدې برخه کې هیڅ یوه ساحه د ښه والي او بهبود ښکارندوېې نه کوي.

### الف- د سوداګرۍ چاپيريال

د کاروبار  چاپيريال د کورنيو ناخالصو عوايدو د ودې د ليوالتياو انديکاتور/شاخص وي، چې دغه شاخص په معمول ډول د پرمختګ په حال کې وي، چې د کورنيو ناخالصو عوايدو زياتوالي راښايي ( په اوسط ډول يو څو مياشتې، که چيرې نه نو غير متوقع بدلونونه په دغه چوکاټ کې رامنځته کيږي).

د سوداګرۍ د چاپيريال شاخص د اداره کوونکو د اټکلونو پر بنسټ د دوې د کاروبار د اوسني وضعيت او د ستندرد او په نړيواله کچه د استعمال شوي فارمول پر اساس د راتلونکو شپږو مياشتو لپاره پدغه برخه کې د دوې توقع  له مخې  را منځته کيږي. ( د ميتودولوجي/ کرنلارۍ لپاره د دغه رپوټ آخرنۍ برخه وګورۍ).

د شاخص درجې  د صفر  د ټکي څخه چې نارمل/عادي حالت راښايي څخه پيل نهايتآ تر مثبت  ۱۰۰  پورې د ښه چاپيريال او دغه راز د صفر  څخه د منفي ۱۰۰ په لور منفي يا نا مناسب چاپيريال را په ګوته کوي.

### الف، ۱- د کاروبار چاپيريال په ټول ايز او سيمه ايز ډول

په ټول ايزه توګه د کاروبار انديکاتور د ۲۰۱۷ کال د اګست په مياشت کې د کابل، بلخ، کندهار، ننګرهار او هرات د سيمو لپاره په ټول ايزه توګه (۵-۸-) ښودل شوي، چې دغه شميره  په تيره سروې کې (۶-۷-) وو.




| | IV-12 | IV-13 | I-14 | II-14 | IV-14 | I-15 | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I - 2017 | II - 2017 | III - 2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Overall | 14 | 8 | 27 | 1 | 31 | 19.3 | 2.208 | -23.1 | -18.9 | -9.07 | -6.71 | -6.81 | -9.93 | -9.1 | -6.7 | -5.8 |
| Kabul | 17 | 12 | 29 | -8 | 31 | 11 | -2.5 | -40.3 | -26 | -9.25 | -20.8 | -13.5 | -30.4 | -29.6 | -27.2 | -10.0 |

لکه څرنګه چې په ګراف-۱ کې ښودل شوي، د اوسنۍ سروې له مخې په ټوليزه توګه د کاروبار چاپيريال لږ څه ښه شوي، مګر دغه سروې د تير ۲۰۱۶ کال د همدغه وختونو په نسبت کوم خاص بدلون نه را په ګوته کوي. د سروې شويو کاروبارونو د اعتماد کچه د دوی د اوسنيو شرايطو له مخې متفاوته وه، ولې د تيرې سروې په مقايسه يې ښه والي موندلی

(-۲۳،۲ الي -۳۰،۵) مګر د دوې توقع د راتلونکو شپږو میاشتو لپاره چې ( ۹،۵-۹،۵) ده، کمه شوې. د پخوا هر وخت په څېر سروې شوي کاروبارونه راتلونکي ته امیدواري ښايي، پداسې حال کې چې د دوې د کاروبار پلانونه او وړاندوینې پدې اړه د دوې تشویش راښايي. پداسې حال کې چې دوې د تیرو دریو میاشتو په لاسته راوړنو سره څه سر او کار نلري.

د ۲۰۱۷ کال د لومړنیو دوه ربعو په څېر یواځې د ننګرهار سیمه د کاروبار د ښه چاپیریال ښودونکې ده ، دغه راز د کندهار او بلخ سیمې هم د یو څه ښه والي ښودونکی دي. ولې برعکس د کابل او هرات سیمې د خراب حالت ښکارندویي کوي. باید یادونه وکړو په افغانستان کې د موسم او کرنیزو عواملو اهمیت ته په پام سره ویلې شو چې اوړې د کاروبار لپاره ډېر مناسب موسم دې.

ACCI BCI

**Graph 2: د ولایاتو د تفکیک پربنسټ د سوداګرۍ چاپیریال**
**2014 to 2017**




| | II-14 | IV-14 | I-15 | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I - 2017 | II- 2017 | III - 2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Kabul | -8 | 31 | 11 | -2.5 | -40.25 | -26 | -9.25 | -20.75 | -13.5 | -30.41 | -29.6 | -27.2 | -10 |
| Balkh | -21 | 31 | 21.7 | 20.225 | -30.56 | -11.11 | 3.89 | -53.89 | -5.555 | -20.57 | -14.7 | -12.2 | -14.9 |
| Kandahar | 10 | 33 | 25.55 | 2.75 | -12.22 | -27.22 | -19.44 | 4.995 | -1.11 | -2.61 | -20.9 | -20 | -9.2 |
| Nangarhar | 18 | 37 | 31.7 | 18.89 | -1.11 | -6.11 | -11.12 | 27.78 | -3.89 | 5.65 | 12.6 | 23.5 | 10 |
| Herat | 4 | 24 | 6.7 | -28.33 | -31.11 | -23.89 | -9.445 | 8.33 | -10 | -1.47 | 7 | 2.2 | -5.1 |

### الف-۲. د مختلفو سکټورونو پربنسټ د سوداګرۍ چاپیریال

د تولید (-۱۹,۴) او نورو سکټورونو (۱,۱—۳,۱-) تر منځ غټ فرق شتون لري. د ۲۰۱۴ کال په پای کې د تولید/صنعت سکټور د نورو سکټورونو په مقایسه ښه فعالیت درلود او دا په ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ کلونو کې د کاروبار د عمومي چاپیریال د خرابوالي پر وړاندې د سوداګرۍ، خدماتو او ساختماني چارو په نسبت یو څه ښه والي راښایي. ولې د ۲۰۱۶ کال د وروستي فصل څخه را پدیخوا صنعت د ټولو سکټورونو په نسبت وروسته پاتې دې. کرهنه چې د ۲۰۱۶ کال په دوهمه ربعه کې پدغه سروې کې په نوي ډول ځاې ورکړل شوې د وروستیو دوه سروې ګانو په نسبت یې حالت بد تره شوې دې، ولې د سکټوري درجه بندۍ له مخې لا هم په سر کې ده (۱,۱).

ACCI BCI

**ګراف 3: په ټول ایز ډول د سکټورونو په پام کې نیولو سره د سوداګرۍ حالت 2014 ,-2017**




| | II-14 | IV-14 | I-15 | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I-2017 | II- 2017 | III - 2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Manufacturing | 3 | 36 | 18.7 | 19.695 | -20.61 | -11.82 | -0.905 | -4.24 | -1.515 | -12.73 | -19.4 | -20 | -19.4 |
| Trade | -1 | 32 | 20.7 | -5.515 | -26.56 | -25.17 | -8.275 | -3.45 | -6.9 | -11.38 | -14.8 | -9.3 | -1.3 |
| Construction | 11 | 25 | 9.5 | -11.43 | -28.58 | -21.9 | -20 | -14.29 | -16.67 | -27.62 | -14.8 | -15.3 | 0.7 |
| Service | 0 | 29 | 19.3 | -5.4 | -31.38 | -23.79 | -11.38 | -17.93 | -10.69 | -15.17 | -19.4 | -12.8 | 0.1 |
| Agriculture | | | | | | | | | | -5.515 | 3.8 | 5.9 | 1.1 |

### الف-۳:  د کاروبار چاپیریال د شرکت اوکمپنۍ د اندازې پر بنسټ

د کاروبار د چاپیریال د څرنګوالي دغه سروې د تېرو سروې ګانو په څېر دا راښايي چې د غټو او کوچنېو شرکتونو او کمپنیو په لید لوري کې د سوداګرۍ د وضعې په اړه معقول بدلون په سترګو کيږي. کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د کاروبار چاپیریال منفي په ګوته کړې (۱۵,۳-) کوم چې د لمړۍ ربعې په مقایسه ښه والې راښايي (۱۹-) ولې د تېر کال د همدې فصل په مقايسه خرابوالي را په ګوته کوي (۱۲,۱۲-). برعکس سترې او غټې کمپنۍ  د کاروبار په چاپیریال کې ښه والي را ښايي، کوم چې د تیر کال د همدغه فصل او د هغې وروسته وختونو کې د پام وړ ښه والي را په ګوته کوي.

لوې (۲۴) او منځني (۱۲) شرکتونه او کمپنۍ د راتلونکو شپږ میاشتو په اړه خوش بینه دي، ولې دغه راز کوچنۍ کمپنۍ پدغه برخه کې د کاروبار خرابېدونکي حالت را ښايي (۶,۷-).

ACCI BCI

**ګراف  :4 په ټوله کې د کاروبار د چاپیریال څرنګوالي د شرکتونو د اندازې پر بنسټ  2014 ,-2017**




| | II-2014 | IV-2014 | I-2015 | II-2015 | III-2015 | IV-2015 | I-2016 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I-2017 | II-2017 | III - 2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| SME | -5 | 29 | 11.9 | -5.415 | -33.05 | -27.42 | -14.74 | -13.88 | -12.12 | -16.04 | -22.3 | -19 | -15.3 |
| Large | 6 | 35 | 27.7 | 13 | -14.8 | -7.5 | 1 | -1.5 | -1 | -9.73 | 3.6 | 4.4 | 8.6 |

### ب: د فرمايشونو ورکړې ځرنګوالي

د فرمايشونو د ورکړې حالت د کاروبار د ځرنګوالي بل شاخص/ انديکاتور بلل کيږي، چې دغه د کاروبار د چاپيريال په برخه کې نيمګړتياوې پوره کوي او کېدی شي چې د کاروبار چاپيريال ته د ليوالتيا په برخ کې د کنټرول د وسيلې په توګه ترې کار واخيستل شی. د نتايجو ارقام د فيصدي د بيلانس له مخې ( مثبت – منفی جواب ) ته رسيږي.

کاروبارونه دا را ښايی چې دوی ته فرمايشات په کم شوي دي (-۳۶,۴) . دغه اندازه د تېر ۲۰۱۶ کال د فرمايشاتو (-۳۳,۴) په نسبت يو څه ټيټه ده. هيڅ يوه سيمه مثبت بدلون نه په ګوته کوي، ولې ننګرهار (-۴,۴) د نورو سيمو په پرتله ښه حالت را ښايي: کابل (-۴۱,۳)، بلخ (-۵۲,۲)، کندهار(-۵۰,۴) او ننګرهار او هرات (-۲۸,۷)



## ج: د کارموندني توقع

د دغه سروې پر بنسټ کاروبارونه د کارموندني په برخه کې د وړاندوینې (۱۰) په اړه ښه نظر لري او په دې لار کې د دوې خوشبیني د پخوانی سروې په مقایسه ۰،۵ درجې زیاتوالي موندلی دی. کرهنه د کار موندني په برخه کې لوړ ترین توقعات (۱۳،۱) او صنعت پدې لار کې تر ټولو ټیټه کچه (۹،۴) کې قرار لري.




| | II-2014 | IV-2014 | I-2015 | II-2015 | III-2015 | IV-2015 | I-2016 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I-2017 | II-2017 | III - 2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Manufacture | 43 | 56 | 40.61 | 27.88 | -19.39 | -33.04 | -10.61 | -16.37 | 0.91 | -4.85 | -17 | -10.3 | -9.4 |
| Services | 39 | 45 | 42.75 | 23.45 | -20.95 | -35.17 | -14.83 | -16.21 | -5.52 | -9.66 | -8.7 | -9.4 | 4.1 |
| Trade | 20 | 37 | 34.48 | 23.45 | -17.24 | -24.48 | -20.35 | -12.07 | -15.18 | -8.275 | -11.7 | -8.3 | 1.1 |
| Construction | 18 | 30 | 34.29 | -5.72 | -18.62 | -40.95 | -23.34 | -20.48 | -22.39 | -18.57 | -10.5 | -13 | -2.9 |
| Agriculture | | | | | | | | | | 1.752 | 4.9 | 21 | 13.1 |

د بل هر وخت په څېر د کار حقیقي وضعیت د هغه څه سره توپیر درلود کوم چې کاروبارونو یې طمع درلوده. د مارچ په میاشت کې سروې شوو کاروبارونو د کار موندني په برخه کې د راتلونکو دري میاشتو لپاره د ۹،۵ درجو په اندازه زیاتوالي طمع درلوده، ولې دغه سروې د کارموندني په برخه کې ډیر زیات منفي تمایل را په ګوته کوي. د هغه ځواب ویونکو شمېره چې د دوې په اند خپل کارکوونکي یې له لاسه ورکړي د هغو په نسبت چې په تېرو دریو میاشتو کې د کارکونکو د زیاتوالي څخه یادونه کوي ۸ سلنه زیاته شوې ده.

تولیدي برخه/صنعت (۹،۴-)، ساختماني سکټور د کاري فرصتونو په لاسه ورکولو سره (۲،۹-)، سوداګري (۱،۱)، د خدماتو برخه (۴،۱) او د کرهنې برخه د کاري فرصتونو په رامنځته کولو سره (۱۳،۱) .

## د: د امنيتي وضعيت څرنګوالې

په اوسط ډول د امنیت د برخې شاخص د سیمې په کچه د زیاتو تغیراتو په درلودلو سره د پخوانی سروې (۳۶,۴-) په مقایسه خرابوالې را په ګوته کوي (۳۸,۵-). هیڅ یوه سیمه د مثبت بدلون ښکارندویي نه کوي، چې پدغه لړۍ کې د کندهار سیمه (۴,۴-) سره د ننګرهار (۲۹,۶-)، بلخ (۴۰-)، کابل (۴۹,۴-) او هرات (۵۶,۵-) په نسبت لږه نا امنه ښودل شوې.

ACCI BCI

**ګراف :08**
**د ولایتونو په کچه پیشبني شوې امنيتي وضعيت 2014 -2017**
**په تېرو درې میاشتو کې**




| | II-14 | IV-14 | I-15 | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I-2017 | II- 2017 | III - 2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Kabul | 1 | -17 | -40.5 | -54.5 | -70 | -61.5 | -59 | -33.5 | -17.5 | -48.17 | -65.7 | -64.1 | -49.4 |
| Balkh | -7 | 17 | 33.33 | -29.22 | -62.22 | -40 | -65.56 | -64.45 | -46.67 | -46.09 | -35.6 | -14 | -40 |
| Kandahar | 13 | 22 | 54.45 | 19.78 | 18.89 | -18.89 | 35.56 | 5.55 | -2.22 | -14.78 | 2.5 | -5.2 | -4.4 |
| Nangarhar | -22 | -16 | 38.88 | -36.67 | -46.67 | -77.78 | -60 | -48.89 | 7.77 | -52.18 | 5.2 | -13.9 | -29.6 |
| Herat | 0 | -17 | -5.55 | -37.78 | -62.22 | -40 | -8.89 | -30 | -17.78 | -14.78 | -3.3 | -53.1 | -56.5 |

## ی: د کاروبار د پراختیا لپاره اړین پرمختګونه

د کاروبار د عمده موانعو ارزونه دا را په ګوته کوي چې د یو کاروبار د پرمختیا لپاره د بازارموندنې، تقاضا، اداري اصلاحاتو او غوره زیربنا په خوا کې تر ټولو مهم فکټور امنیت دی.

**ګراف :9 په مجموع کې د کاروبار د پراختیا لپاره اړین پرمختګونه**
**2016 -2014**




| | II-14 | IV-14 | I-15 | II-15 | III-15 | IV-15 | I-16 | II-16 | III - 16 | IV - 2016 | I-2017 | II-2017 | III - 2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Security | 53 | 44 | 45.18 | 41.43 | 53.93 | 55.71 | 47.58 | 64.11 | 54.29 | 63.12 | 54.8 | 70.2 | 67.5 |
| Market | 23 | 27 | 19.11 | 21.61 | 21.96 | 21.25 | 23.08 | 12.5 | 20.36 | 10.07 | 15.5 | 10.1 | 11.5 |
| Administration | 6 | 7 | 13.75 | 17.5 | 13.57 | 12.86 | 14.67 | 9.82 | 10.54 | 8.51 | 18.2 | 8.5 | 9.6 |
| Infrastructure | 12 | 17 | 17.14 | 13.93 | 6.25 | 7.32 | 9.84 | 7.86 | 10.18 | 12.77 | 7.4 | 9.8 | 8.5 |
| Finance | 6 | 5 | 4.82 | 5.54 | 4.29 | 2.86 | 4.83 | 5.71 | 4.64 | 5.53 | 4.3 | 1.4 | 2.9 |

**ضمایم:**

**د کاروبار د چاپیریال د شاخص پیژندنه**

د کاروبار چاپیریال د صنعت یا تولید، ساختماني چارو، خدماتو او سوداګری د سکتورونو په برخو کې د شرکتونو د مدیرانو د دوراني سروې پر بنسټ را منځته کیږي. د دغه مدیرانو څخه غوښتل کیږي څو د خپل کاروبار د فعلی وضعیت د څرنګوالي او دغه راز په دې برخه کې په راتلونکو شپږ میاشتو کې د خپلو توقعاتو په اړه معلومات وړاندې کړي. دوی ممکن خپل راتلونکي وضعیت د عادي حالت څخه غوره، عادي او یا هم د عادي څخه بدتر په ګوته کړي. د دوی د توقع پر بنسټ ممکن دوی راتلونکي حالت د اوس څخه غوره، ثابت یا په خپل حال او یا هم بدتر ارزیابی کړي.

د اوسني حالت متوازن ارزښت د ځوابونو د ونډو د سلنې تغیر یا بدلون « د عادي څخه غوره» او « د عادي څخه بد». دغه راز د توقعاتو متوازن ارزښت د ځوابونو د ونډو د سلنې تغیر «غوره» یا « بدتر» دی.

د کاروبار چاپیریال د حالت ریاضیکي وسیله (متوازن ارزښت) او توقعات (متوازن ارزښت).

په ګرافیکی پرزینتیشنونو کې د سروې په لومړیو پړاوونو کې « نارمل یا عادي حالت» او « په خپل حال باقی پاتې» قضاوتونه د صفری خط په توګه اخیستل کیږي. د کاروبار د شاخص اندازه ممکن د صفر څخه تر مثبت سل او دغه راز سل د منفي طرف په لور.

په بعدي مرحله کې کېدې شی د وخت وروسته سلسله رامنځته شی، «صفری» لین باید د عادي کال د اقلیم پر بنسټ (د ۱۰۰ په توګه اخیستل کیږي او په ادامه یې د ربعوار اقلیم ارزښت د دې کال د شاخص په توګه اخیستل کیږي).

---

**ترتیب کوونکي: یونس نګاه، نعمت الله علیشیریان او ډکتر مسعود پروانفر**

**مصاحبه کوونکي: علی سرج، سنګر جبارخیل، فضل احمدی، عبدالقدر امیری او میرمن حمیرا رضایی**

**پښتو ژباړه: حشمت الله خوګیانی**